مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۱۲/۰۷

# غل نظر

معلومه نه ده، چې د کلي د خلکو دا پرېکړه سمه وه یا غلطه؛ لیکن یوه ورځ دوی په شنه سهار د هغې قبر را وسپړه.

له هرې بېلچې خاورې لېرې کولو سره د قبر خوشبو زیاتېده. کله چې ټول قبر را وسپړل شو او کیندونکو د هغې له سره لویه تیږه لرې کړه، خلک هیښ شول او په غلو نظرونو یې یو بل ته وکتل. د دوی سترګې هغه مهال وچې پاتې شوې چې د د جسد په پټه خوله کې یې را ټوکېدلی ګل ولید. ګل دومره تېزه خوشبو لرله چې ټول قبر یې په سر اخیستی و.

کیندونکو بېرته جسد ته کفن ور واغوست او قبر یې په بیره بند کړ.

د هغې خاوند چې دا هر څه ولیدل، په چیغو چیغو یې وژړل.

خلک خپلو کورونو ته ستانه شول؛ خو هغه د شپې تر تیارې خپرېدلو وروسته هم د خپلې مېرمنې له قبر سره سر لګولی و.

ملګرو یې له اوږو ونیو او کور ته د بولو یې ورته وویل. خو هغه چې څنګه د اوچتېدو کوښښ وکړ، بېرته را وغورځېد. په سلګو کې یې وویل: زه اوچتېدلی نشم. زما په اوږو لوی بوج پروت دی. ملګرو یې وپوښتل: کوم بوج، لږ خو موږ هم خبر کړه!

سړي قبر ته وکتل او ځواب یې ورکړ: د هغې په شونډو کې څکه ګل را زرغون شوی و، چې نیږدې ۲۰ کاله یې ما سره په پټه خوله تېر کړل.

زه له نارینتوبه محروم شوی وم؛ خو هغې په ټول عمر کې هیڅ ګله ونکړه او یوه غله نظر ته یې هم اجازه ورنکړه، چې ښکلا یې ترې پټه کړي.

سړی بیا په ژړا شو او د خپلې مېرمنې له قبر سره وغځېده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ